**د نړیوال کنفرانس**

**( پاکستان د بنسټپالنې او تروریسم مرکز-دافغانستان دبې ثباتی اصلی عامل دی )**

**اعلامیه**

**د ۲۰۱۷ کال د اپریل د میاشتې ۲۳ مه نیټه**

**بیفروایک ـ هالند**

د هالندهېواد د بیفروایک په ښارکې ( پاکستان د بنسټپالنې او تروریسم مرکزاو دافغانستان دبې ثباتی اصلی عامل دی ) تر سرلیک لاندې د نړیوال کنفرانس ګډون کوونکې، د اروپا د افغانانو جرګې له خوا رابلل شوي کنفرانس غونډه، د هېواد په اوسنیو پیچلو او کړکیچنو شرایطو کې یو مهم او پر ځای ګام بولي او هغې ته د نړیوال عدالت پر خوا د پاکستان د کشولو د یوې ځرګندې عملي هڅې په سترګه ګوري او ترې پراخ ملاتړ اعلانوي . د کنفرانس د برخه والو په نظر د افغانستان د خلکو، بیلا بیلو افغاني نهادونو او حکومت د سوله ایزو هڅو برسیره لا هم د افغانستان تراژیدی او په افغانانو تپل شوي جګړه ادامه لري . د دې جګړې په پیچلې کېدو او لا اوږدیدو کې نړیوالې او سیمه ایزې کړۍ او یو شمیر حکومتونه لاس لري . د پاکستان پوځ او استخباراتو د نورو ټولو مداخله ګرو په پرتله د افغانستان په تبا کولو کې ډیره ونده اخستې او زیات انساني ، مالي او معنوي تاوانونه یې خلکو او هېواد ته اړولي دي . له بده مرغه تر اوسه هم د پاکستان د لاس وهنې له امله زموږ د بې دفاع هېوادوالو وینه تویږي او د ملک مهم بنسټونه ورانیږي. د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې تدبیرونه او اقدامات د جګړې په قابو کولو کې تر اوسه د خلکو له خوا نه احساسیږي او ولس په ډیر ستونزمن حالت کې ایسار شوی دی. له بلې خوا د هېواد یو شمیر اګاه شخصیتونو او ټولنو د ډیرې مودې راپه دیخوا د افغانانو په خاوره د څه کم نیمې پیړۍ روانې جګړې د لاملونو د لټولو په موخه یو له بل سره جرګې او مشورې لرلې او په پای کې دې نتیجې ته رسیدلې چې د پاکستان په مشرۍ یو شمیر نړیوالې او سیمه ایزې کړۍ د افغانستان د نیابتې جګړې څټ ته فعالې پاتې دي . دوي ګټې کوي ، خو افغانانو ته خپل هېواد د ځمکې پر مخ دوزخ ګرځوي . د کنفرانس برخه والو د روان ناورین په وړاندې د ننني کنفرانس جوړیدل، چې د بنسټپالنې او تروریزم د مرکز په توګه د پاکستان له مظالمو او تیریو پرده پورته کوي او نړیوال عدالت ته د هغه هېواد کشول غواړي ، په بهر کې د اوسیدونکو افغانانو د ځرګند اعتراض ډاګیزه بیلګه بولې. همدا رنګه د کنفرانس ګډونوالو په ۲۰۱۶ جولای کې په برتانیا کې د افغانانو د عدالت غوښتنې د مرکز (مدا) پرانیستل کېدل، چې مطرحو موخې ته د رسېدو اړوند یو وړ جوړښت دی او تر اوسه یې یو لړ فعالیتونه کړي او د ننني کنفرانس توافقاتو ته ژمن دی ستایي او له هغې ملاتړ اعلانوي. د کنفرانس وینا کوونکو او د هغه په کار کې برخې اخستونکو په ډاګه کړه، تر څو چې پاکستان په

نړیوال سټیج هر اړخیز لوخ نه شي او د نوموړي هېواد اصلي څیره نړیوالو ته ښکاره نه شي،او پر دغه هیوادباندې اقتصادی،سیاسی او نظامی بندیزونه وضع نه شی،او په پاکستان کې د تروریستانو د روزلو ټول مزکزونه ړنګ نه شی،هیڅکله افغانستان کې ثبات راتلی نه شی او افغان وژونکې جګړه پاي نه شي موندلی!

په سیمه او نړۍ کې د بنسټپالنې بنې، لکه القاعده، طالب، داعش او نور چې یو واري د اي اس اي د تجربو په لابراتوار کې پروسس ته لویږي او د ازمایلو په موخه د افغانستان د جګړې ډګرته صادریږي، د پاکستان په وجود کې کنګل نه شي، د جګړې او د هغې د توکو د تولید، لیږد او استفادې مجرمین، په تیره بیا پاکستان نړیوال عدالت ته ورټیل نه وهل شي ، افغانان نه شي ژغورل کېدلی!

**له دې امله د کنفرانس ګډون کوونکي،**

- په بهر او د هېواد دننه په ټولو حقوقي، سیاسي، فرهنګي، ټولنیزو نهادونو او خپلواکو ملي شخصیتونو غږ کوي چې عدالت ته د پاکستان د وړاندې کولو په حساس ، پیچلي او له خطره ډک بهیر کې فعاله او هر اړخیزه مسلکي ونډه واخلي، د کار او اوسېدو په ساحو کې د اغیز لرونکو ټولنو او شخصیتونو سره چې د پاکستان د منزوي کېدو د هڅو پلوي کوي، د هر اړخیزو مرستو د تشویقولو او تر لاسه کولو په موخه سلا مشوروي وکړي.

-د ټولو نړیوالواړوندو ادارو له چارواکو څخه غواړي چې د هېواد د ننه او بهر د هغو حقوقی، مدني ټولنو او خپلواکو شخصیتونو هر اړخیز ملاتړ وکړي چې، په افغانستان کې د جګړو د نښلولو، ادامي ورکولو، انساني او مالی زیانونو د اړولو په تور پاکستان نړیوالی محکمي ته وړاندي کوي.

- د نړیوالي ټولني هغه ماموریت ته ګوته نیغوي چې، د تروریسم د اصلي جرړو د ایستلو، د القاعدي او نورو ترهګرو ډلو د ځالو د ورانولو، د افغانستان د ځمکنی بشپړتیا، ملي واکمنی، د ملي پولو د ساتلو او د خلکو د امنیت د خوندي کولو هوډ په کې شوی ؤ. له دي امله له نړیوالي ټولنی او د ملګرو ملتونو له سازمان څخه غواړي چې خپلو تعهداتو ته ژمن پاتې شي او پاکستان د تروریسم او بنسټپالني د ملاتړو او مرسته رسوونکو هېوادونو په لیکه کې راولي.

**عدالت ته د پاکستان د وړاندي کولو په لور.**